


دکتور حبیب الله تږے

روز د دې تر څنګه د ځنو لیکوالو هغه خبرې هم چې وائي پښتانهٔ بني اسرائیل نهٔ دي، یادوي او کلک مخالفت ورسره کوي.

روز په پایې کښې د ژبې خبره یادوي او وائي دا څهٔ عجیبه خبره نهٔ ده چې پښتنو دې خپله اصلي عبراني ژبه بائللې وي ځکه دے وائي کله چې د یوهٔ اولس یو څو قبیلې له خپل ملک او خلقو نه جلا او په یوهٔ بل ملک کښې د یوهٔ غښتلي او ګڼ اولس په منځ کښې میشته شي، هلته نو بیا دا څهٔ د تعجب خبره نهٔ ده چې دغه قبیلې خپله ژبه بائللې. روز خبرې ته دوام ورکوي او وائي حتیٰ یو غښتلے او فاتح قوم هم خپله ژبه په ډېره اسانۍ بائللې شي.(۱۹)

یو بل لیکوال چې د پښتنو او یهودو په مسئله ئې ځان ته کتاب ولیکهٔ هغه د پښتو ژبې او پښتني اقوامو او تاریخ څېړونکے، هنري والټربیلیو دے. دا کتاب ښائسته اوږد عنوان لري او هغه دا دے چې ((د افغانانو په باره کښې یو نوے سوال یا دا چې پښتانهٔ رښتیا هم اسرائیل دي او کهٔ بل څوک؟))

متاسفانه مونږ ته د دې لیکنې په وخت کښې د بیلیو دا کتاب لاس ته رانغے. خو هغه په دوو نورو کتابونو کښې هم چې د یوهٔ عنوان ئې د افغانستان د قوم پېژندنې مطالعه ده او د یو بل عنوان ئې د افغانستان طوائف دي. په دې مسئله غږېدلے دے. بیلیو په دې دواړو کتابونو کښې هغه عنعنوي روایت چې پښتانهٔ بني اسرائیل ګڼي، راخستے او په ضمني او یا صریح ډول ئې د تائید سر ورته خوځولے دے.

بیلیو په دا اول کتاب کښې یو ځائے لیکي چې افغانان د هغوي د خپلې عنعنې په اساس د هغو اقوامو په جمله کښې راځي چې اسلام ئې په خپله خوښه منلے دے او څهٔ رنګه چې افغانان په افتخار ځانونه بني اسرائیل ګڼي دا د دې معنا لري چې د دوي دا ادعا به غالباً رښتیا وي چې اسلام ئې د دغې سیمې له نورو اقوامو نه د مخه منلے دے. ځکه چې د دوي اصل مذهب یعني یهودیت اسلام ته ډېر ورنزدے دے.(۲۰)

بیلیو په بل اثر کښې هم هغه عنعنوي روایت ته د منلو سر خوځولے چې د پښتنو د اصل او نسب په باره کښې معمول دے او د تائید دپاره ئې ځنې تاریخي ټکي هم یاد کړي دي. بیلیو دلته لیکي چې

افغانان ځانونه بني اسرائيل ګڼي او وائي چې اصلاً بخت نصر له شام نه د اسيرانو په حېث غور ته بوتلي او هلته ئې ميشته کړي دي. دې وائي دا خبره تورات هم تائيدوي او د اسرائيلو هغه لس قبيلې چې اسيرې شوې وې وروستو وتښتېدې او د ارسريت ملک ته ئې پناه يوړه او ارسريت ننني د هزاره سيمه ګڼل شوې ده.

بيليو دا هم وائي چې په طبقات ناصري کښې راغلي دي چې د غور د شنسباني کورنۍ د واکدارۍ په وخت کښې په هغه ځائے کښې يو اولس اوسېدۀ چې بني اسرائيل نومېدۀ او ځنو ئې له شا و خوا ملکونو سره ډېر زيات تجارت لارۀ.(۲۱)

په دې ډول بيليو هم هغه عنعنوي روايت چې پښتانۀ له اصله بني اسرائيل ګڼي تائيدوي خو دې ځنې پښتانۀ بني اسرائيل ګڼي مګر ډېر نور ئې بيا په نورو طائفو مثلاً برهمنانو، راجپوتانو، جټانو، يونانيانو، هفتاليانو، ساکانو يا سېتيانو، مغولانو، ترکانو، عربانو، ارمنيانو او نورو ورګډوي.

بيليو تر ټولو زيات پښتني قبائل او قومونه په راجپوتانه پورې تړي. دې د راجپوتانو دودونه، عنعنات، اخلاق او ډېر نور اجتماعي خصوصيات په ښائسته تفصيل يادوي او له پښتنو سره ئې يو شے بولي.

بيليو د پښتنو او راجپوتانو د اصل او نسب د ارتباط په باره کښې دومره وړاندې ځي چې ځنې پښتني قبائل او د ډېرو قبائلو اکثره اقوام په راجپوتانو پورې تړي. مثلاً دې د بېټني قبيلې د خرشبون پښه په څلور پنځوس قومه وېشي او بيا



وائي چې د دغو قومونو د تقريباً نيمائي نومونه واضحاً راجپوت او يا هندي دي.(۲۲)

ښائي چې د بيليو په خبرو کښې به ځنې داسې ټکي هم وي چې د يو څۀ غور ارزښت ولري مګر اکثره خبرې او حکمونه ئې ښېخي له احتماله لرې حدسياتو، بعيدو قياسونو او د الفاظو او نومونو په داسې صوتي مقائسه بنا دي چې په ژبنيو مطالعاتو کښې د عاميانه اشتقاق اللغة په نامه يادېږي او د اصواتو د مقائسې ئې او تاريخي مطالعې له نظره دومره اعتبار نۀ لري. بيليو د تاريخي او اجتماعي مطالعاتو اصولو ته هم پوره اعتنا نۀ ده کړې، مثلاً کله چې دې د يوۀ پښتني قوم نوم د راجپوتانو، برهمنانو او يا کوم بل لرغوني قوم يا قبيلې له نامه سره مقائسه کوي، د دغه پښتني قوم په تاريخي سابقه هيڅ بحث نۀ کوي او دا نۀ ښيي چې دغه پښتني قوم څۀ وخت او څنګه په دې نامه ياد شوے دے. په نتيجه کښې دې ډېر داسې قومونه چې اسلامي نومونه لري، په لرغونو غېر اسلامي طائفو پورې تړي او نومونه ئې هم فقط د ځنو سطحي شباهتونو په بنا د دغو اقوامو له نومونو سره يو شے بولي. کۀ څۀ هم په دې باره کښې هيڅ دليل او شاهد نشته چې دا اقوام به له څو سوه کاله نه پخوا په دې نومونو ياد شوي وي، علاوه پر دې بيليو کله کله په اصطلاح له پچې نه پېچومے

جوړوي. مثلاً دې د طبقات ناصري په حواله ليکي چې په لرغوني غور کښې يو اولس اوسېدۀ چې بني اسرائيل نومېدۀ او ځنو کسانو ئې له شاوخوا ملکونو سره ډېر وسيع تجارت لارۀ.

خو کوم مطلب چې په دې ارتباط په طبقات کښې راغلے دے د هغه په هيڅ برخه کښې هم دا نۀ دي وئيل شوي چې په غور کښې د يهوديانو کوم اولس اوسېدۀ. په طبقات کښې يواځې په يوۀ يهود خبرې شوې دي او لنډيز ئې دا دے:

په غور کښې يو يهودي وۀ چې د امير بنجي ملګرے وۀ. يوه ورځ دغه يهود چې ډېر زيات ملکونه او د هغوي د واکدارانو دربارونه ئې ليدلي وو او له درباري ادابو سره ډېر ښۀ بلد وۀ، امير بنجي ته ووئيل چې کۀ زۀ داسې لارې چارې در وښيم چې د اسلام خليفه هارون الرشيد خوشحاله کړې او هغه ټول غور درکړي نو ماته به بيا دومره يو ځائے راکړې چې يو شمېر بني اسرائيل پکښې دېره کړم. امير بنجي له يهودي سره دا خبره ومنله. دواړه د هارون الرشيد دربار ته لاړل. خليفه د امير بنجي له سلوک نه دومره خوښ شو چې ټول غور ئې ورکړو.(۲۳)

د طبقات د دې روايت په برخه کښې دوه ټکي د يادولو وړ دي. يو دا چې دا روايت اصلاً د افغانستان په اساطيرو کښې راځي او دومره ارزښت نۀ لري. بل دا چې طبقات ناصري په صراحت يواځې په يوۀ يهود غږېږي او وائي هم دې يو يهودي آرزو لرله چې نور يهوديان هم غور ته ورولي.

هنري راورټي هم پښتانۀ د يهوديانو له نسله بولي. دې په هغه مضمون کښې د پښتنو او پښتو د اصالت په باره کښې ئې ليکلے او په کال ۱۸۵۴ کښې ئې د بنګال د شاهنشاهي ټولنې په مجله کښې خور کړے او بيا ئې له خپل پښتو ګرامر سره د مقدمې په حېث يو ځائے کړے دے، اوږد بحث کوي او ليکي چې پښتانۀ خپله ځانونه د يهوديانو له نسله بولي. په دې پسې وائي دا مطلب د سدوزو د قبيلې په يوۀ تاريخ کښې چې په دې وروستو وختونو کښې د دۀ لاس ته ورغلے دے، او تذکرة الملوک نومېږي په بهترينه طريقه بيان شوے دے. راورټي وائي دا اثر اتۀ ټوکه او جمله ٦٤٠ مخه دے. د کتاب هر مخ ۱۷ سطره لري او په پښتو ژبه ليکل شوے دے. دې وائي دا کتاب ډېر ناياب دے. راورټي د کتاب ديباچه او مقدمه ترجمه کړې او په هم دې مضمون کښې ئې ځائے کړي دي.

تذکرة الملوک په مقدمه کښې هغه عنعنوي روايت په ښائسته تفصيل راغلے چې پښتانۀ بني اسرائيل بولي. راورټي وروستو د دغې مقدمې له ثبتولو نه وائي. «علاوه پر هغه اثر چې ما ئې لنډيز دلته راواخست په ډېرو معتبرو آثارو کښې دا ثابته شوې ده چې افغانان اصلاً د دغه ملک نۀ دي چې دا اوس پکښې هست دي. بلکې په لرغونو زمانو کښې له لوېديځې آسيا نه په ورو ورو ورته راغلي دي او ځۀ ناممکنه خبره نۀ ده. ښائي چې مختلفو عواملو د پېړيو په تېرېدلو هغوي دې ته مجبور کړي وي چې د بيت المقدس له شاوخوا سيمو نه مهاجرت وکړي.»(۲٤)

راورټي وروستو د خپل پښتو قاموس په مقدمه کښې په زياتره صراحت او قاطعيت دا حکم کوي چې پښتانۀ بني اسرائيل دي. دې ليکي:

وروستو له کامل غور نه غوارم دا نتيجه واخلم له هغه نژدېوالي نه چې ما د پښتو او سامي او ايراني ژبو ترمنځ وښودو له هغو متعددو رواياتو نه چې په دې باره کښې موجود دي. د حضرت يعقوب د اولادې له هغو دودونو نه چې د يهوديانو له اسارت نه پېنځۀ ويشت پېړۍ راوروستو هم په افغانانو کښې رائج دي، له دې نه چې د دوي افغانانو ثهره له بل هر اولس نه په قاطع ډول توپير لري. د دوي افغانانو له ينډي او حتیٰ يو بل سره غدر نه، د تجارت په کار کښې د دوي له ځيرکۍ نه او له کټې سره د دوي له مينې او له هغو متعددو ثبوتونو نه چې مونږ ئې په دې باره کښې لرو چې دوي په تدريج سره د آسيا له غرب نه وړاندې تللي دي. زۀ غوارم دا نتيجه واخلم چې افغانان د يهوديانو د لسو قبيلو بقايا دي.(۲۵)

د يهوديانو په دائرة المعارف کښې هم راغلي دي چې پښتانۀ د خپلې عنعنې په اساس ځانونه د يهودو د لسو ورکو شوو قبيلو اولادۀ گڼي. په دې پسې په دائرة المعارف کښې هغه مطلب په ډېر لنډ ډول راخستل شوے چې بيليو په غور کښې د يهوديانو د موجوديت په ارتباط د طبقات ناصري په استناد ليکلے او مونږ د مخه پرې وغږېدو.

د يهوديانو دائرة المعارف دا هم ليکي چې وئيل کېږي کوم د يهوديانو معبد چې کنډوالي ئې په کابل کښې موجودې دي، د هغه تاريخ د بخت نصر وخت ته رسېږي.(۲۶)

په ځنې آثارو کښې بيا پښتانۀ قبطيان او د فرعونانو له نسله گڼل شوي دي او د ابو الفضل آئين اکبري بيا هم وړومبنے ليکل شوے اثر دے چې دغه راز يو روايت پکښې راغلي دي. ابو الفضل کله چې د دۀ په خپل قول د کابل د سرکار په بحث کښې د پښتنو په اصالت غږېږي. دا روايت يادوي خو بې اساسه ئې بولي. دې ليکي:

ځنې وائي چې افغانان قبطيان دي او کله چې اسرائيل له بيت المقدس نه مصر ته لاړل، دغه خلق يعني افغانان هندوستان ته راغلل.... دا ډېر اوږد بحث دے او زۀ دلته ورنه تېرېږم خو يواځې دومره بايد ووئيل شي چې دا هسې يوه خيالي افسانه ده.(۲۷)

فرشته بيا دغه شان يو روايت د يوۀ بل اثر په حواله په خپل تاريخ کښې ثبت کړے دے. دې ليکي:

((ما په مطلع الانوار کښې چې يوۀ منلي مؤلف ليکلے او ماته د دکن د کاندېش په يوۀ ښارگوټي کښې لاس ته راغے، لوستے دے چې افغانان فرعون الاصله قبطيان دي. کله چې موسیٰ پېغمبر هغه کافر (فرعون) ته ماته ورکړه او په سره بحيره کښې غرق شو، ډېرو قبطيانو د يهودانو دين ومانۀ. خو نورو ئې چې سر تنبه او خود رايه وو، رښتيني دين ونۀ مانۀ او له خپله ملکه ولېږدېدل هندوستان ته لاړل. په نهايت کښې د سلېمان په غرونو کښې ميشته او د افغانانو په نامه ياد شول.))(۲۸)

فريد الدين احمد هم په رساله ((انساب افاغنه)) کښې وائي په داسې معياري آثارو کښې، لکه تاريخ افغاني، تاريخ غوري او نور راغلي چې اکثره پښتانۀ اسرائيل دي خو ځنې ئې بيا قبطيان دي.(۲۹)

داسې ښکاري چې د انساب افاغنه يوه نسخه د معروف انگرېز مؤرخ جان ملکم لاس ته هم ورغلې

وه. دې په دې ارتباط لیکي : زۀ د افغانانو د تاریخ یوه قلمي نسخه لرم. د دغه تاریخ مؤلف د افغانانو دوه نور تاریخونه، چې یو ئې د افغانانو تاریخ دے او بل ئې د غور تاریخ یادوي او وائي له دغو آثارو نه داسې ښکاري چې افغان قسماً ځانونه د مصر د قبطیانو له نسله بولي او قسماً د اسرائیلو له نسله. (۳۰)

اما په ځنو هغو آثارو کښې بیا چې په افغانستان او ایران باندې د چنګېز له یرغل نه وروستو د دغې سیمې د حالاتو په باره کښې لیکل شوي، افغانان او یو بل قوم چې جرما بلل شوي او معمولاً له افغانانو سره څنګ په څنګ ذکر شوي، له مغلو سره خلط شوي دي. (۳۱)

له دغو آثارو نه یو ډېر پخوانے د محمود کتبي تاریخ آل مظفر دے چې په ځنو قلمي نسخو کښې د حمد الله قزویني له تاریخ ګزیده سره یو ځائے راغلے او د تاریخ ګزیده جزو بلل شوے دے. تاریخ آل مظفر په کال ۸۲۳ کښې تصنیف او په کال ۱۳۳۵ کښې د نوایي په همت په تهران کښې خور شوے دے. په دې اثر کښې افغانان او مغل ببخي سره ګډ شوي څۀ چې ډېر ځله ببخي یو شے ګڼل شوي دي. لکه دا چې ((عماد الدین محمود...د دار ابجرد په سیمه کښې د هرې طائفي عسکر راټول کړل او اوغاني او جرمایي مغلو ته ئې هم بلنه ورکړه.))(۳۲) یو بل ځائے وائي ((په دغه وخت کښې چې اوغانیانو او رمائیانو حرکت کاوۀ نو روزیانو چې هغوي هم مغول او د کرمان په ګرمسیر او سرد سیر کښې میشته او له دوي سره همسایه دي، هیڅکله هم خپل اخلاص پرې نۀ ښود او ځکه نو په امان پاتې شول. (۳۳)

وروستو بیا لیکي ((اوغانیانو جالغ(۳۴) لاړۀ او د مغلو له دود سره سم ئې د هغه پرستش کاوۀ او د بتانو په نامه ئې قرباني کولې. (۳۵)

د میرخواند د روضۀ الصفا په متن کښې هم د آل مظفر د پېښو د بیان په ترڅ کښې افغانان او جرمایان په ډاګه له مغلو سره ګډ شوي او داسې پکښې راغلي دي. ((امیر محمد ... کرمان ته راغے او وروستو له څو ورځو نه خبرونه راغلل چې اوغان او جرما مغولانو د ولایت په شاوخوا کښې بغاوت او چور پیل کړے دے.)) (۳٦)

د روضۀ الصفا د چاپ شوې نسخې د عناوینو په فهرست کښې هم افغانان او مغول سره ګډ شوي دي خو زۀ نۀ پوهېږم چې دا فهرست د مؤلف دے او که د ناشر.

لکه څنګه چې ډورن د مخزن افغاني په یادداشتونو کښې راوړي دي، عبدالرزاق سمرقندي بیا څو څو ځایه افغانان او جرمایان له ترکانو سره ګډ کړي دي. یو ځائے لیکي ((امیر مبارز الدین مظفر... په دې فکر چې ښائي اوغان او جرمائي اتراک به د هغۀ تر مظفرانه ببرغ لاندې راټول شي، د بم په لاره لاړو او د جیرف په دښته کښې ئې واړول.))(۳۷)

یو بل ځائے لیکي چې ((شاه شجاع په دې پسې شو چې د افغان او جرمائي فوځ تباه کړي. دوي ترک نژاده دي.)) بیا لیکي (( امیر سیور غتمش دا قوي احتمال ګاڼۀ چې سرګردانه قبائل او ترک افغانان به ورسره یو ځائے شي.))(۳۸)

په دې ډول یو شمېر مؤرخینو د یوې خاصې دورې د وقائعو د بیان په ترڅ کښې افغانان په وضاحت له مغولو او ترکانو سره ګډ کړي دي. په دې باره کښې مونږ د هم دې فصل په یو د برشم یاداشت کښې یوه لنډه تبصره کړې ده. ځنې اروپایان بیا د ارمنیانو په یوه عنعنوي روایت پسې تللي دي او افغانان ئې له ارمنیانو سره ګډ کړي دي. کوم اروپائي لیکونکي چې دغه روایت ئې تر ټولو نه د مخه ثبت کړے هغه کروسنسکي دے. کروسنسکي چې اصلاً پولېنډي دے له کال ۱۷۲۰ نه تر کال ۱۷۲۵ پورې په اصفهان کښې د عیسوي اسقف د سکرتر او ترجمان په حېث اوسېدۀ او په اصفهان کښې ئې د پښتنو د فتحې او د صفوي دولت د سقوط حالات په سترګو لیدلي او یادداشت کړي دي. دا یادداشتونه په حقیقت کښې د هوتکو د تاریخ یوائینی معتبره اصلي منبع ده. کروسنسکي د خپلو یادداشتونو په اوله برخه کښې د افغانانو په اصل او نسب یو لنډ بحث کوي او په دې ضمن کښې لیکي چې د افغانانو تاریخ بېخي مبهم دے او دا معلومه نۀ ده چې دوي اصلاً د شیروان یا هغه ولایت دي چې د کسپین د بحیرې په خوا کښې داغستان ته ورڅېرمه پروت دے او کۀ د هغو دښتو چې له دغه ولایت سره هم سرحده او له باب الابواب نه ها خوا دي او کۀ لرغوني کسپي دے او یا د دغه ملت یوه څانګه ده.

په هر صورت کله چې (ګوډ) تیمور فارس او نور ګاونډي ملکونه تالا کړل نو دغه خلق ئې یوۀ لرې ملک ته چې د فارس او هند ترمنځ پروت دے ولېږدول چې هم له ټولو یرغلونو نه په امان وي او هم نور تاواني نۀ شي. ځنې مؤرخین په دې عقیده دي چې دا اولس هغه وخت ارمنستان نه راوتي دے چې د شیروان ولایت د البانیا په نامه یادېدۀ او خلق ئې البانیایان بلل کېدل... د شیروان او کره باغ په سیمه کښې د لویو لارو ساتونکي اغوانیخ بلل کېږي چې د ارمنیانو په ژبه کښې ئې معنا د افغانانو مشر دے او د ګیلان په سرحد کښې... ارمنیان ځانونه اغوان لیک ګڼي او په دې نامه ډېر ویاړي. ډېر امکان لري د (افغانستان) د قندهار نوم وروستو له هغه چې دوي (افغانان) پکښې میشته شول، د کنډسار Kendsar له نامه نه جوړ شوے وي او ځنې مؤلفین کنډسار هغه ماڼۍ ګڼي چې ستر سکندر جوړه کړې وه... کله چې افغانان له ارمنیانو سره اوسېدل نو بې شکه د هغوي په دود او مذهب وو. خو کله چې له خپلې اصلي خاورې نه لرې شول او له هندیانو سره ګډ شول نو په ورو ورو ئې اسلام ومانۀ. حتيٰ په اوس وخت کښې هم چې (افغانان) ډوډۍ پخوي په یوه خوا ئې د صلیب علامه کاږي او دا د دوي ارمني عنعنه ده چې تر اوسه ئې ساتلې ده. سدوي د خپلو پلرونو او نیکونو په پېروۍ له چور او چپاؤ نه خوند اخلي او هند ته د نزدې والي له امله ئې له جنګ سره عادت پېدا کړے دے.))(۳۹)

د کروسنسکي د پورته عباراتو په باره کښې څو ټکي د یادولو وړ دي. یو دا چې دا پورته مطلب د دوسغ سیو د فارس د انقلابونو په تاریخ کښې چې اساس ئې د هغۀ د لیکوال په قول د کروسنسکي خاطرات دي، په یو څۀ تفاوت ثبت شوي دي.

بل دا چې کوم اثر چې مونږ دا پورته مطلب ورنه اخستے په هغۀ کښې د افغان کلمه په هم دا خپل شکل یعني افغان لیکلي شوې ده. مګر د

دوسغ سیو د فارس په انقلابونو کښې د افغان کلمه د کتاب له سره تر پایه پورې د اغوان په شکل لیکل شوې ده. او ښائي د دې خبرې دلیل دا وي چې کروسنسکي افغانان له اصله ارمنیان بولي او ارمنیان لکه څنګه چې وروستو به ولیدل شي له ډېر قدیم نه د اغوانانو په نامه یاد شوي دي. دریم کروسنسکي وائي چې ګوډ تیمور افغانان له شیروان نه داسې یوځ ملک ته وشړل چې د فارس او هندوستان ترمنځ پروت دے. خو وروستو هم په دې اثر کښې او هم د فارس د انقلابونو تاریخ کښې په صراحت سره وئیل شوي چې دا ځائے هم دا افغانستان قندهار دے.

کوم مطالب چې جورج کېپل په خپله سفرنامه کښې چې په کال ۱۸۲٤ میلادي کښې چاپ شوې دۀ راوړي دي د هغو روحیه هم داسې ده چې ګوندې پښتانۀ او ارمنیان په اصل او نسب سره یو شے دي. (نور بیا)